آيا زه تاسو ته د داسې يو څه لارښوونه ونه کړم چې ستاسو له غوښتنې (غلام غوښتلو) غوره وي؟ کله چې ځملاستلئ - او يا خوب ځای ته راغلئ- نو دري ديرش ځلې سبحان الله، دري ديرش ځلی الحمد لله او څلوردیرش ځلې الله اکبر ووايئ، نو دا ستاسو لپاره له خدمتګار څخه غوره دي

له علی رضي الله عنه څخه روايت دی چې: فاطمه رضی الله عنها رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله چې د ميچنې له امله د خپلو لاسونو د تياکې کېدلو په اړه ورته شکايت وکړي، او لدې هم خبره شوې وه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مريان راوستل شوي دي، خو هغه ورسره مخ نه شو، نو عائشې رضي الله عنها ته يې يادونه وکړه، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی، عائشې رضي الله عنها خبر کړ، (علي رضي الله عنه) وايې: په داسې حال کې (زمور کور ته) راغی چې مونږ ځملاستلي وو، نو هڅه مو وکړه چې کينو، راته يې وويل: «مه خوځيږئ» نو راغی او زما او د (فاطمې) تر منځ کښناست، تر دې چې ما يې د پښو يخوالی په خپله ګېډه حس کړ، نو ويې فرمايل: « آيا زه تاسو ته د داسې يو څه لارښوونه ونه کړم چې ستاسو له غوښتنې (غلام غوښتلو) غوره وي؟ کله چې ځملاستلئ - او يا خوب ځای ته راغلئ- نو دري ديرش ځلې سبحان الله، دري ديرش ځلی الحمد لله او څلوردیرش ځلې الله اکبر ووايئ، نو دا ستاسو لپاره له خدمتګار څخه غوره دي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لور فاطمې رضي الله عنها لاسونه د ميچن کولو له امله تياکې شوې وې، نو کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته غلامان راوستل شول، ورغله تر څو ترې په همدې مريانو کې د يو غلام غوښتنه وکړي چې پر ځای يې د کور کارونه وکړي، خو هغه يې په کور کې ونه موند، او عائشه رضي الله عنها په کور کې وه، نو هغې ئې پدې خبره خبر کړه، نو کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی؛ عائشې رضي الله عنها د فاطمې په راتګ خبر کړ چې د غلام غوښتنه يې کوله، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د فاطمې او علي رضي الله عنهما کور ته په داسې حال کې ورغی چې هغوی دواړه په بستر کې وو او ويده کېدلو ته يې چمتوالی نيوه، نو د دواړو تر منځ کښناست تر دې چې علي رضي الله عنه يې د پښو يخوالی په خپله ګېډه حس کړ او ويې فرمايل: آيا زه تاسو دواړو ته داسې يو څه ونه ښيم چې له خادم غوښتلو درته غوره وي؟ دواړو ووېل: هو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې د خوب لپاره د شپې خپلو ځايونو ته لاړئ، نو څلوردیرش ځلې تکبيرونه يعنې: الله اکبر، دري ديرش ځلې تسبيح يعنې سبحان الله او دري ديرش ځلې الحمد لله ووايئ؛ نو دا اذکار تاسو دواړو ته له غلام څخه غوره دي

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6076